# پښتو ناول په سهيلي پښتونخوا کښې

Pashto Novel in Southern Pakhtoonkhwa

ډاکټر نصر الله وزير
ډاکټر محمد عثمان توبه وال

**Abstract:** *In Pashto literature novel writing is traced back to the 2nd decade of nineteen century. While in the southern belt of Pakhtoonkhwa it is seem to be written in the start of 21st century. So, this paper thoroughly goes through all that's roots due to which the novel comes and it's various literary aspects. Therefore, this paper briefly discusses the History of Pashto Novel, its evaluation and progress in Pakhtoonkhwa, especially in this specific area.*

په وروستيو وختو کښې که څۀ هم قيصه په څورنګه يادول شوې ده خو د قيصې هغه رنګ چې محض د ساعت تېرې دپاره ليکل شوې وي او په کښې د داسې واقعاتو بيان وي، چې د انساني عقل او فکر سره هيڅ علاقه نۀ لري، ورته داستان وئېل شوی دی. له داستان سره نژدې نژدې بيا د ډرامې ابتدا شوې ده او د ډرامې نه وروسته د قيصې يو بل خوندَور صنف ناول دی، چې په فني ساخت کښې له ډرامې څخه ښېخې زيات ، ولې له داستان څخه په يوڅو شيانو کښې توپير ښائي، هغه دا چې داستان يوه داسې قيصه وي چې ټوله اډانه ئې په تخيل او مافوق الفطرت عناصرو ولاړه وي، طوالت او په پړوکي پړوکي قيصه په مخ بيول د دې خاصه ده. ولې د دې په مقابل کښې ناول هغه صنف دی چې د انسان او له انسان سره تړلي واقعاتو بيان په بشپړه توګه په کښې ښودل شوی وي.

په ناول کښې چې څۀ ډول قيصه يا واقعات وړاندې کولې شي هغه د انساني ژوند په اړه يوه داسې په زړۀ پورې اوخوندناکه قيصه وي چې لوستونکی ترينه نۀ

Assistant Professor, Department of Pashto, UoB, Quetta
Assistant Professor, Pakistan Studies Centre, UoB, Quetta

يواځې خوند اخلي بلکې په هغه تاثر هم ځان پوهوي کوم چې ناول ليکونکي په دې کښې دننه پټ ايښى وي.

**پښتو ناول**: د ناول په حقله چې هرڅومره نړيوال ادب و سپړلی شي نوهلته داخبره په ډاګه ده چې دهرځای داستانوي ادب د هغه ځای وناول ته ډېرځۀ ورکړي دي. په دغه اساس که د پښتوناول ته ځيرشو،نو د پښتوادب په تاريخ کښې ځۀ داسې علامې په نظر نۀ راځي چې له هغوڅخه دې دا ثابته کړل شي چې د پښتو داستانونو دې د ناول په روزنه او پالنه کښې ځۀ خاص لاس لرلی وي. ځکه چې پښتو داستانونه نۀ خو په نړيواله کچه سيالۍ ته جوګه شوي وو او نۀ ئې چرته د لوړ تخيل شاهکار داستان تخليق کړی. ځکه چې پښتو داستان په خپله هغه مقام ته لا نۀ ؤ رسېدلی چرته نه چې له دې څخه د ادب يو نوی صنف او يا دا په خپله په يوه بله بڼه اوښتې وي. ولې داخبره سمه ده چې په پښتو کښې دناول ترمخه قيصه ايزادب ( وړې قيصې ) ښۀ په زورکښې ؤ .

د پښتو ځنې محققېن اونقادان په دې عقيده دي چې په پښتو کښې د ناول ابتدا له هغه دوو ژباړليو ناولونو څخه ده کوم چې ميا حسيب ګل کاکاخېل دمراة العروس او ميا يوسف کاکاخېل د توبة النصوح ( ژباړې ) بالترتيب د نقش نګين او د توبة النصوح په نامه ۱۸۸۴ء او ۱۹۰۵ء کال کښې ليکلي او چاپ کړې دي. پس له دوئ نه بيا ښاغلی راحت زاخېلي هغه اولنی اديب دی چې په کال ۱۹۱۲ء کښې ئې ″ماهِ روح يا نقشِ نګين″ په نامه سره په پښتو کښې اول طبع زاد ناول ليکلی دی.

"دا ناول وروستو بيا د کابل پوهنتون فرهنګي شورا له خوا د پوهنيار لطيف بهاند د سريزې او تدقيق سره په کال ۱۳۶۳هـ ثورکښې چاپ شو" (1)

"هم دغسې هلته په بره پښتونخوا کښې پښتو ناول دپاره استاد کشککي او استاد عبدالحی حبيبي صاحب هغه نامتو ليکوالان ياد ېږي، چې د ژباړې له لارې ئې د دې صنف د متعارف کولو ابتدائي هڅې پېل کړې، ″ پټه مينه″ د استاد کشککي او ″بې چاره ګان″ داستاد حبيبي ژباړلي ناولونه دي. اوهم له دې سره سم دريم ليکوال محمدرفيق قانع ياد ېږي چې ″دوه سره مئين وروڼه″ ئې په ۱۳۱۸ هـ لمريزکال کښې خپور کړی".(2)

پښتو کښې د ناول د ابتدا په حقله ځنې محققين څۀ قدر د تضاد ښکار شوي دي او هغوئ د ډپټي نذير احمد ناول "مراة العروس" هغه ژباړه چې مياحسيب ګل د نقشِ نګين په نامه سره کړې ده، ته داوليت حق وربخښي:

"پشتو میں ناول نگاری کی ابتدا اردو ناول کے زیر اثر ہوئی اور ۱۸۶۹ء میں منظر عام پر آنے والے ڈپٹی نذیر احمد کے "مراۃ العروس" کا پشتو ترجمہ پشتو ناول کا نقطہ آغاز ٹھہرا. پشتو میں یہ ترجمہ میاحسیب گل کاکاخیل نے ۱۲۹۳ھ میں نقش نگین کے نام سے کیا. پشتو میں نقشِ نگین کی حیثیت واہمیت کو کبھی بھی نظر انداز نہیں کیا جاسکتا، کیوں کہ اسی سے پشتو ادب میں ایک نئی اور جدید رجحان کا اغاز ہوا اور نقش نگین ہی پشتو ناول نگاری کا نقش اول ہے" (3)

هم دغه ليکوال مخکښې وړېسې زياتوي چې:

"ڈپٹی نذیر احمد کے ایک اور اصلاحی ناول 'توبۃ النصوح'، کا ترجمہ پشتو ناول کے ارتقا کی دوسری کڑی ہے جسے 'توبۃ النصوح ہی کے نام سے سرخ ڈیری کے میامحمد یوسف کاکاخیل نے کیا." (4)

ولې دغه بره اقتباس که د دې حوالې په اعتبار وکتل شي چې، "پښتو ادب کښې ناول د شلمې پېړۍ په ابتدا کښې د اردو ژبې څخه را ترجمه شوی دی. په دې د ډپټي نذير احمد (توبة النصوح) ورومبی ناول دی، چې د اردو څخه ميا محمد يوسف کاکاخېل په پښتو اړولې او په کال (۱۳۲۳هـ ، ۱۹۰۴) کښې په ۴۴۸ مخونو کښې خپور شوی دی. ميا حسيب ګل کاکا خېل مراة العروس د نقش نګين په نوم ۱۸۷۶ء کال کښې ترجمه کړی ؤ، چې په کال ۱۹۵۷ء کښې چاپ او خپور کړی شو"(5).

هم دغسې په دې اړه د ښاغلي ډاکټرمحمد اعظم اعظم دا حواله ته پام وکړئ چې:

"په پښتو ادب کښې د ناول د فن سره پېژندګلو د نولسمې صدۍ په وروستۍ څلورمه برخه کښې شوې ده او زمونږ په ژبه کښې د ناول شروع د ميا حسيب ګل کاکاخيل د نقش نګين نه کېږي.دا د اردو ژبې د اولې دورې د ستر او نوموړي اصلاحي ناول ليکونکي ښاغلي مولوي نذير احمد د اولني ناول مراة العروس ترجمه ده " (6).

دلته که د دغو پورتنيو اقتباساتو په رڼا کښې وکتل شي نو يو خو دې څېړونکيو د تاريخونو په راوړلو کښې له احتياط څخه کار نۀ دی اخستی او بل دې ته ئې پام نۀ دی کړی چې يو چاپ (ژباړلی) ناول د يو

ناچاپ ژباړلي ناول په مقابل کښې څومره اثر او ارزښت ځان ته ګټي. نو په دا اساس په صحيح معنو سره د نقشِ نګين برعکس د ميامحمد يوسف ژباړلی ناول توبة النصوح هغه اولنی چاپ ناول دی چې په پښتو کښې ئې د طبعزاد ناول ليکلو ته نور ليکوالان هڅولي. خو په دې کښې شك نۀ شته چې ميا حسيب ګل په کال ۱۸۷۶ء کښې له مراة العروس (پښتو) څخه د مخه نقش نګين په اول ځل ژباړلی، کوم چې د ميا يوسف کاکاخېل د مراة العروس (پښتو) له ژباړې وروسته په کال ۱۹۵۷ء کښې چاپ شوی دی.

که دا يوه مفروضه وګڼلې شي چې له دې ژباړليو ناولونو څخه د پښتو ناول ابتدا شوې ده نو دا بيا له ۱۹۰۵ء څخه يا د ۱۸۷۶ء څخه شمارل کېدلی شي او که د پښتو له اول طبع زاد ناول څخه ئې شمارو، نو د پښتو اول طبع زاد ناول استاد راحت زاخېلي په ۱۹۱۲ء کال کښې ليکلی دی. هر څو دا که له ۱۹۰۵ء څخه حساب کړل شي او يا د ۱۹۱۲ء څخه، خو د دې هر څۀ باوجود هرکله چې د پښتو اول طبع زاد ناول په ۱۹۱۲ء کال کښې شائع کېدل يقيني ده اوله دې وروسته دويم طبع زاد ناول په کال ۱۹۳۹ء کښې ليکل شوی، چې له دې څخه څۀ دېرش کاله دورانيه جوړېږي. "د مرحوم راحت زاخېلي نۀ پس تر ډېرې مودې د پښتو ناول چا و نۀ ليکلو، په کال ۱۹۳۹ء کښې نورمحمد تره کي په افغانستان کښې يو ناول د بې تربيته زوئ په نامه وليکلو، چې په کابل مجله کښې ئې قسطوار چاپ کړو"(7).

خو ځنې نقادان په دې عقيده دي چې"د پښتو ژبې اول مکمل طبع زاد ناول د صاحب زاده محمد ادريس "پېغله" دی کوم چې په کال ۱۹۵۰ء کښې چاپ شوی. "پېغله" يواځې د پښتو اولنی طبع زاد ناول دی. تر دا چې د پښتو ادب [ځنې] ناقدين دا د پښتو وړومبنی مکمل ناول ګڼي، که څۀ هم په دې کښې ځنې فني او تېکنيکي خاميانې هم موجودې دي"(8).

هر کله چې له مونږ سره د استاد راحت زاخيلي "ماه روح" يا "نتيجه عشق" او د نورمحمد تره کي ناول "بې تربيته زوئ" موجود دي، کوم چې بالترتيب په ۱۹۱۲ء او ۱۹۳۹ء کال کښې خپارۀ شوي دي، نو دا بيا سمه

نهٔ ده چې "پېغله" دې اولنی مکمل ناول په توګه یاد کړل شي، که خبره د فن او تېکنیك د بشپړتیا وي نو بیا خو پېغله هم هغومره نیمګړتیاوې لري څومره چې په دا نورو ناولونو کښې ښودل شوي دي. بلکې تراوسه داسې ډېر ناولونه دي چې هغه یاد شوي خو د ناول په قطار کښې دي ولې فني سکښت ئې د ناول له فن سره ډېر توپیر ښائي. له دې کبله په یو داسې ناول چې په وروستۍ وختو کښې لیکل شوی وي او فني سکښت ئې هم کمزوری وي، ته د یو مکمل ناول په ارزښت داولیت سهره ور په سر کول ادبي تناظر کښې ښهٔ بدعت نهٔ دی.

**ناول په سهېلي پښتونخواکښې**: په سهېلي پښتونخواکښې د پښتو افسانوي ادب وړانګې د شلمې پېړۍ له نیمايي څخه راوروسته هغه وخت راخورې شوې دي، له کله چې خدای بخښلي سائي کمال خان شېراني (مراني) دپښتو ادبي او صحافتي هلو ځلو ته د خپلې میاشتینۍ رسالې "پښتو" له لارې دوام ورکړلو. له دې سره په سهېلي پښتونخوا کښې افسانه د ۱۹۵۳ء کال څخه، او هم په دغه څېر ناول ئې څهٔ کم سل کاله وروسته ( یعني د ۱۹۱۲ عیسوي کال څخه تر۲۰۰۵ عیسوي کال په حساب ) را شروع شوی.

ولې د پښتونخوا په سهېلي برخه کښې چې کومه قیصه په ۲۰۰۵ء کال کښې د ناول په څېرراپېژندل شوې ده، هغه د ناظرصادق نومې لیکوال لیکلې یوه اوږده قیصه "وچه لښته" ده چې ورته ناول وئیل شوي دي.

د ناظر صادق ددې ناول نُما (وچه لښته) په کړهٔ وړهٔ کښې ګڼ کردارونه سره یوځای کړی شوي دي، چې له هغونه ثمینه او نثار احمد مرکزي کردارونه دي، کوم چې له وړوکوالي یو بل ته د مینې نظرونه لري. ثمینه چې د حیدر خان یکې یوه لور وي، مور ئې سکینه نومېږي، چا ته چې خدای پاك بې شانه حسن او حیا ورکړې وي، هغه د یوې شتمنې کورنۍ څخه وي اوحیدرخان چې ددې خاوند وي، ور سره بې کچه مینه لري. دوئ یو بل ته ډېر د قدر او درانښت ژوند لري، خو دا هغه وخت په ازمېښتونو واوړي کله چې سکینه د خپلې لور ثمینې له زېږېدو سره له

جهانـه سـترګې پټـې کـړي. بیاحیـدرخان د هغـې لـه مرګـه وروسـته ترڅـهٔ حـده د هغـې یـاد پـاللو هڅـې خـو وکـړي، ولـې تـر ډېـره و نـهٔ کـولی شـي چې پـه هغـه یـادونو ټینـګ واوسـي کـوم چـې دوئ احسـاس کـړي وي. اخـر هغـه بـل وادهٔ وکـړي. ثمینـه چـې د مېـرې مـور تـر راتـګ د مخـه پـه پـلار ډېـره ګرانـه او نـازولې وي خـو د دې دغـه نـازاو قـدرڅو ورځـې پسـته پـه کمېـدو شـي کلـه چـې ددې مېرنـۍ مـور زاهـده ورتـه د پـلار پـه زړهٔ کښـې د ازغیو کرونده شروع کړي.

پـه نـورو کردارونـو کښـې د نثاراحمـد خـور، زرغونـه، ذکـر شـوې ده، څـوك چـې یـوه تعلیم یافتـه او ازاد خیالـه جینـۍ وي، زرغونـه د خپلـې ازاد خیـالۍ پـه تصورکښـې د څـهٔ قـدر بـې لارېتـوب ښکارشـوې هـم وي. ورسـره یـو څـو نـور مرسـتیال کردارونـه لکـه ډاکټـر هـارون، د ډاکټرمور(سـلیمه)، سائره د لونګ خان لور، کریم خان د نثاراحمد ترهٔ هم شامل دي.

"وچه لښـته"، تـه دا نـوم غالبـاً ځکـه ورکـول شـوی دی چـې لـه دې څخـه د نااُمیـدۍ یـا د یـو غـوڅ شـوي امیـد څخـه بېرتـه د ترسـره کېـدونکي امیـد هیله په انسان کښې پیدا کول ښودل شوې ده.

موضـوع ئـې ښـکلې ډېـره پـه زړهٔ پـورې اوجلبـوونکې ده، چـې د ګڼـو کردارونـو پـه واسـطه یـو څـو مربوطـو واقعـاتو تـه ئـې ژونـد ورکـړی، کـوم چـې د ثمینـې د مظلومیـت احسـاس تـه د قـاري پـه ذهـن کښـې ځـای جـوړوي. قیصـه ئـې هـر څـو ډېره پـه زړهٔ پـورې، د درد او احسـاس یـوه قـوي جذبـه لـري، خـو فنـي سکښـت ئـې ډېـر پاشـلی او نیمګـړی غونـډې دی، د مـوادو پـه اغړولـو کښـې ئـې ډېـره خـواري پـه ځـان نـهٔ ده وړې. ځکـه کـه پـه ژور نظـر ورتـه وکتـل شـي نـو پـه دې کښـې د"کونډې جینـۍ"رنـګ هـم محسوسـېدی شـي، دا هغـه وخـت ښـکاره کېـږي کلـه چـې ثمینـه د خُسـر پـه کـور د خپـل مېـړهٔ د مـرګ خبـر واوري. نـو هلتـه لـه دې سـره خواښـې او نندرور چـې کومـه رویـه اختیـارکړي، دغـه یورنګـه تکـراري کیفیـت معلـومېږي کـوم چـې دکونـډې جینـۍ پـه کـردار کښـې هـم ښـودل شـوی. البتـه د ثمینـې او د کونـډې جینـۍ د کردارونـو پـه عمـل کښـې کـه څـهٔ تـوپیر دی هغـه بیـاد ثمینـې حوصـله، جذبـه،

همت اوله حالاتو سره د مخامخ کېدو قوتِ عمل دی. د ثمینې په دې قوتِ عمل کښې د هغې تعلیم یو مهم محرك وي چې له دې کبله هغه د ژوند په بدمرغیو بېرته قابو ومومي. خو دلته له لیکوال څخه قیصې ته څۀ قدر فلمي رنګ هم ورکړ شوی.

څکه نو "وچه لښته" چې د یو مکمل ناول اړتیاوې نۀ پوره کوي، نو بیا خو د سیمه ایز ناولونو په تذکره کښې د دې اولیت مقام په باب خو هم سوالیه نشان پیداکېږي، له دې کبله که دې ته اوږده افسانه اویا ناول نُما ووئېل شي نو به هم بې ځایه نۀ وي.

د سیمه ایز ناول په تذکره کښې که څۀ هم ډېر نومونه یادېدلی شي، چې د وچه لښته وروسته په دا ډګر کښې رامنځته شوي دي، خوله دې څخه کوم چاته چې په صحیح معنو کښې په دغه سیمه کښې د اول ناول لیکونکي دستار تړل کېدلی شي، هغه ادیب اروابناد افضل شوق او دهغۀ ناول "پروني مخونه"دی. د دې ناول قیصه هغۀ دخپل ژوند له رښتینیو واقعاتو څخه راپورته کړې ده اوتروسه ئې هڅه کړې ده چې په کښې دفن اړتیاوې په ځای وساتي، "پروني مخونه" په ۲۰۰۶ء کال کښې دسکام پښتو اکېډمۍ کوټه څخه خپورشوی. په دې کښې مهمه قیصه د ناول لیکونکي د ژوند د یوڅوخاص هغه لمحوته دناول بڼه ورکړل شوې ده، کومې چې هغۀ په مصرکښې له یوې الجزائرین جینۍ سره په مینه کښې اړولې وې.

په پښتوکښې چې تراوسه هرڅومره ناولونه لیکل شوي، له هغو څخه ددې ناول انفرادیت هم دا دی چې تراوسه په دغه انداز په پښتوکښې کوم بل ناول مخې ته نۀ دی راغلی، څکه د افضل شوق دا ناول په پښتو ادب کښې منفرد او یو نوی طرز د راپېژندلو حېثیت لري.

په مجموعي توګه ددې ناول ډېرې سمې او ناسمې خواوې راوړل کېدلی شي خو په لنډه که یو څۀ خصوصیات ئې بیانېدلی شي نو هغه په دې کښې د جملو بندش، د الفاظو کاریګري، متحرك کردارونه او د وړاندې کړل شویو نابلده منظرونو نظارې دي چې له دې څخه درست

ناول د تهذیب، تاریخ او دعشق یو لاژوال داستان رغوي. واقعات ئې ښهٔ سره پېیلي اومربوط دي، هره واقعه ئې کړۍ په کړۍ مخ په بره تګ ته لېواله اوتلوسه ئې په هرشان جلبوونکې ده. ځاى په ځاى په کښې د ښکلا د نزاکت او د خیالاتو د نفاست مصاله هم اغړل شوې ده، چې له دې کبله یو ډول ملائم ترسکون والی پیداکوی. که څهٔ هم ددې پلاټ دلیکوال د بېدیاني عشق څخه پورته کړل شوی، خو له دې سره چې کوم نور لوازمات راوړل شوي، هغه د تاریخي مقاماتو په هېنداره کښې د زړو تهذیبي اثارو راسپړدنه او د مصر او الجزائر روماني فضا په پښتني چوکاټ کښې د ځایولو زمینه برابرول دي.

له موضوع او ټائټل څخه ئې داسې برېښي ګویا چې دا به یو تاریخي ناول وي، ولې په حقیقت کښې دا یو داسې داستان دی چې تاریخ او رومان سره په کښې یوځاى کړل شوي دي. د ناول په دا قیصه کښې سېلنی(چې په خپله هم دغه ناول لیکونکی دی) په مصرکښې د یوې الجزیرین جینۍ (ډاکټروسا) د وتلي حسن په سحرکښې راګېرشي، دغه سلسله په یو داسې ماحول کښې دوام مومي چرته چې د بیلابیلو نسلونو او د بیلابیلو تهذیبو نو وګړي د مینې په یو رنګ کښې رنګ اخلي. پس له هغه چې دوه مئین زړونه یو بل ته سره نژدې شوي، نو لیکوال غوښتي چې، ولې نه د خپلې مینې دغه داستان په یو داسې دائمي قدربدل کړي، چې تر زماني زماني دې د یو نړیوال داستان په رنګه ولوستل شي. دا یواځې لفاظي نهٔ ده بلکې افضل شوق په خپله هم د دې اعتراف کړی چې، "ګواکه څهٔ هم دازما قیصه ده، زما د تږې ژوند او د مړې مینې قیصه ده، خو ترڅا نه پورې مې محدوده کړې ځکه نهٔ ده چې په دې کښې د فرعونیانو، یونانیانو،رومنو او عربو د لنډ تاریخ سره سره د مصر، الجزائر، شام، اردن، عراق، ترکي، سائپرس او ځنې نورو لیدلیو ملکونو سره سم د خپل هېواد والوو د روئیو، خویونو، کلتور او هر اړخیز ژوند په باب تجزیاتي اشارې د یون لیک تنده هم ماتوي. چې هغه که یوې خواته د دې ناول قیصه سرته رسوي، نو بلې خواته

ولوستونکي تـه د سـېل خونـد او پنـد هـم ور پـه ګوتـه کېـږي، ګـوا ددې پورتنيو خبرو لـه سوبه زمـا قيصـه تشـه زمـا د تسـکين يـا د تشـهير پلمـه څـۀ، چې د رسـوائي وسـيله هـم نـۀ ده، بلکې پـه کښـې د لوسـتونکو د دلچسـپۍ خيال هم ساتلو هڅې شوې دي"(9).

قيصـه ئې هـر څـو خونـدوره اوپـه زړۀ پـورې ده، پـه ابتـدائي يوڅوپړااوونـو کښـې قـاري تـه کـه يـو څۀ مشـکل پېښـېږي، نوهغـه لـه دې وجې چې پـه ابتـدا کښـې دغـه دبـدل مـاحول بـدل کردارونه،بېـدياني منـاظراودميني دغـه ډول اثـر ئـې کلـه هـم دمخـه پـه خپـل چاپېريـال کښـې نـۀ وي محسـوس کړی.ځکـه نـود تـاريخ اوتهـذيب پـه تتـه رڼا کښـې د حسـن وعشـق لـه دې ننداريې سـره پـه ابتدا کښـې سـم تـګ و نـۀ کـړی شـي، وروسـتو هرکلـه چـې قـاري لـه مـاحول اوکردارونـو سـره پـه بلدېدوشـي، نـو لـه هغـه ځايـه قيصـه پـه لاشـعوري توګـه بيا قاري په يومخ له ځان سره ملګری کړي.

پـلاټ ئـې موزونـه،واقعات ئـې زړۀ تـه پرېوتـونکي، کردارونـه ئـې دهغـه مـاحول څخـه دي چرتـه چـې اصـل واقعـه پېښـه شـوې ده،منـاظرئې ربښـتوني اوفني سکښت ئې ترډېره حده برابر دی:

" پاتـه شـوه دمنظرکشـۍ او مکـالمو خبـره نـو دلتـه بـه دا ووايـم ، چـې دسـاده قيصـې څخـه نـاول جـوړول يقينـاَ چـې افسـانوي اوډرامـايي مبـالغې غـوارې اومـا هـم داسـې حتمـاً کـړي دي. مطلـب دقيصـې دخونـد زيـاتولو دپـاره مـې دخپـل شـاعرانه عـادت پـه سـمون خبـرې پـه افسـانوي اوډرامـايي انـداز کښـې نـۀ يـواځې کـړې دي، بلکـې ښـۀ ډېـره مـرچ مصالـه مې هم ورګډه کړې ده"(10).

دفـن داړتيـا پـه خاطرهغـۀ کـه پـه دې کښـې هرڅومره مـرچ مصالـه ورګډه کـړې ده، ولـې بيـا هـم واقعـات او دواقعـاتو بيـان ئـې ربښـتونوالی لـري، ډېـر کـم واقعـات بـه داسـې وي چـې دلوسـتونکي زړۀ تـه دې نـۀ لـوېږي اويـا دې د لوسـتونکي ترخيـال اوفهـم بـالاتر وي. ځکـه ئـې هـره واقعـه خونـدوَره او پـه زړۀ پـورې ده. واقعـات ئـې زيـات د نړيـوال مـاحول اونړيـوال اثـر تـابع دي . بلکـې کـه دا ووئېـل شـي چـې پـه دې کښـې د نړيـوال کلـي اغېززيـات ښـودل

شوی،نوهم به بې ځایه نهٔ وي. پرته له دې هر څومره کردارونو چې ذکرکړل شوي دي، هغه تر ډېره حقیقي دي. خو په دې حقله که په لنډه توګه ووایو چې په دې کښې یو څو ډوله مختلف الخیال،مختلف المزاج او مختلف الانسل کردارونه سره رایو ځای کړل شوي دي، کوم چې د لیکوال دفني بلوغت او ادبي لوړتیا ثبوت ورکوي. ځکه دې ناول ته د یوعام ناول په څېر کتل نهٔ دي په کار بلکې" داناول هم شاید چې هغسې ناول نهٔ وي، کوم چې تراوسه په پښتو اویا ګاونډۍ ژبو کښې لیکل شوي دي، ولې چې په دې ناول کښې هم له " الفه" تر " یې"پورې هر څهٔ رښتیا دي اوهم هغه څهٔ دې چې زما دي او بس زما شاوخوا ته زېږېدلي دي. ګوا نهٔ یوائې ددې ناول پلاټ زما په خپلې قیصې پورې اړه لري بلکې ددې ناول ټول کردارونه (چې له زړو تاریخي علامتي کردارونو) هم زمالیدلي کتلي کردارونه او راسره د ژوند تر دې ساعته څنګ په څنګ راغلي کردارونه دي، چې زهٔ هم ور کښې د سپلاني په بڼه ورګډ یم،یعني پرته له هیرو اوهیروئینې، هن چې نور ټول کردارونه په خپلو اصلي نومونو ورکښې رول لوبوي لګیا دي. دوختونوتعین، دسیمو ذکر، دپېښو نوعیتونه او کیفیتونه هم داسې رښتیا دي لکه په سپینه ورځ کښې چې په اسمان باندې ژیړلمر څرکېږي. ولې چې هر څهٔ دډاکومنټري پروف په رنګه نهٔ یوائې له ماسره په عکسونو اوډائرۍ کښې خوندي پراتهٔ دي بلکې په دې ناول کښې هر یاد شوی کردارئې ګواهي په خپله خولهٔ هم کولی شي"(11).

دپښتوژبې نامتوقیصه لیکونکي ښاغلي سعدالدین شپون هم دافضل شوق ددې خبرې اعتراف کړی چې" افضل شوق دهم دغواستاذانو په صف کښې ولاړ لیکوال دی، دهٔ ښاغلي، دادبیاتو په ډولاډول نوعو کښې په بریالیتوب قلم چلولی دی.سفرنامې ئې په پښتو کښې نامي دي چې ان زما په شان سخت دریځي لوستونکي هم خوند پر اخیستی دی. تصویرونه ئې صفا ،راڼهٔ او پر واقعیت ولاړ دي. ---- په دې ناول باندې له ورایه دشوق ځان ګړې ټاپه ده چې دی له نوروهمزولو لیکوالانو بیلوي"(12).

پـه " پرونـي مخونـه " کښـې نـاول ليکـونکي زيـار کـړی چـې درې واړه زمـانې سـره رايـو ځـای کـړي، لکـه کلـه چـې دی ماضـي څېړي نوهلتـه هغـه د هرپـه زړهٔ پـورې تـاريخي پېښـې دقـاري و ذهـن تـه ورسـوي، پـه حـال کښـې هغـهٔ خپلـه مينـه اودنـړی د يـو څـو نسـلونوله مـېلاپ څخـه د يـوې سـترې افـاقي ټـولنې تشـکيلولو زيـارکړی او دسـبا پـه هېنـداره کښـې ئـې دخپـل محبوب و ارزوګانو ته د خوشحاله ژوند نېکې هيلې پېرزو کړې دي.

کـه ئـې يـو خـوا د نـاول پـه سکښـت او جوړښـت کښـې پـوره فنـي کمـال ښـودلی دی، نـو د خونـدَورو مکـالمو پـه راوړلـو سـره ئـې د خپـل اديبانـه فکـر قـوي دليـل هـم ورکـړی. لنـډې وړې وړې جملـې، د بيـان سـادګي، هرتـوری ئـې لـه معنٰـی ډك او د مکـالمو يـو بـل پسـې غښـتل تـوب د لوسـتونکي پـه تلوسه کښې لويه غلبله پيدا کوي.

دغسې هره جمله اوهره مکالمه ئې په ځای او د فني سکښت له اړخه خورا ډېر موزونيت لري. داځکه چې ناول ليکونکی په دې پوهېدلی چې:

"مکالمہ بیانیہ کی طرح قوت رکھتاہے بلکہ اکثر اوقات یہ قصے کو آگے بڑھانے،نقطہ عروج Climax کولانے،تینوں زمانوں کووحدت میں دکھانے اور فکری وفلسفیانہ گوشے اجاگر کرنے کاکام بیانیہ کے مقابلے پر زیادہ تیز رفتاری سے انجام دیتا ہے. ایک ذہین فن کار کےیہاں مکالمہ قاری کو بھالے جانے اور اس کی فہم کو مہمیز لگانے کا فریضہ ادا کر تاہے"(13).

لـه نـورو ډېـرو خصوصـياتو پرتـه يوڅوخصوصـيات ئـې داهـم دي چـې پـه دې کښـې د هـر عمـرد لوسـتو نکيـو د مـزاج خيـال سـاتلی شـوی، کـه د زمـان اومکـان دائـرو تـه ئـې پـام وکـړی شـي، نـو دورانيـه ئـې نـهٔ ډېـره اوږده اونـهٔ ډېـره لنـډه ده.دغسـې دمـاحول پـه وړانـدې کولـو کښـې هـم دليکـوال اپروچ ډېر لوړ او فطري دی.

پـه پښـتو ادب کښـې هـر څـو کـه دا يـوه ښـکلې اوپـه زړهٔ پـورې اضـافه ده، ولـې بيـاهم پـه دې کښـې دنيـوکې ځايونـه شـته. لکـه دنـاول پـه وروسـتۍ پړاوکښـې څـهٔ چـې پـه مرکـزي کردارونـو تېـر شـوي، هغـه غېـر ضـروري اوغېرادبـې دي. پـه دغـه ځـای کښـې د نـاول سـاخت تـه هـم سـخت زيـان رسـېدلی. پـه کـار خـودا وه چـې نـاول هـم دلتـه ختـم کـړل شـوی وی ځکـه چـې د

قیصې ټول مدارج تردغه ځای پورې راتلی شول. نوپه دغه مقام چې څه بیان شوي دي هغه پرته له یوې ضمیمې بله کومه معنی نهٔ ورکوي.

ښاغلي زرین انځورصاحب یوځای د دې ناول په سر کښې لیکلي چې:" دښاغلي افضل شوق دغه ناول ډېرې ښېګڼې لري. دیو ښهٔ ناول ډېرې زیاتې خوبۍ ئې په کښې خوندي کړې دي، لکه چې هېڅ کار پرته له نیمګړتیاوو نهٔ وي، ښایي چې نیمګړتیاوې هم په کښې وي، لکه دکوزې پښتونخوا دډېرونورو لیکوالو په څېر داسې پرېمانه انګرېزي ټکي، اصطلاحات اونومونه کاروي چې ډېرکسان، په تېره بیا افغان لیکوال به پرې په سختۍ په دغو اصطلاحاتو پوهـ شي "(14).

د محترم زرین انځور وینا په ځای ده چې په دې کښې پرته له ډېرو ښېګړو په کار ده چې دا کومې خامیانې هم ولري او خامخا به ئې لري، ځکه چې انساني لیك قطعاً له خامیانو پاك کېدلی نهٔ شي، ولې د محترم زرین انځور داخبره چې:" دافضل شوق په دې ناول کښې د خارجي تور یو پرېمانه استعمال شوی"سره پوره اتفاق نهٔ شي کېدی، ځکه چې په دې کښې د نورو ژبو کوم توري چې استعمال شوي، هغه د ناول د ماحول تقاضه ده، چې ناول لیکونکي ورځخه په هېڅ صورت ډډه نهٔ شوه کولی، ځکه چې درست مواد ئې له خارجي ماحول څخه اخستل شوي دي. دوېمه داچې درسته قیصه په داسې فضا کښې لوبول شوې ده چرته چې بیلا بیلو تهذیبونواومختلفوژبوخلق سره راغونډ شوي، نوداسې څهٔ رنګه کېدلی شي، چې د هغه ماحول اوپس منظرراوړلوپه ځای دې د پښتواو یا دې د فارسي توري ویړیا ولري. دریمه دا چې افغاني لوستونکیوته که دکوزې پښتونخوا په لیك کښې څهٔ مشکل لیدهٔ شي، د هغې به یو څهٔ پس منظرخو وي، ولې د بره پښتونخوا د لیکوالوپه افکارو کښې چې دپارسۍ او فرانسیسۍ توري په کوم کثرت سره استعمالېږي، هغه خوهم دکوزې پښتونخوا خلقو ته یوه لویه سرخوږي ده. له دې کبله دایوائې د افضل شوق مسئله نهٔ ده،بلکې په پښتنوادیبانو کښې هرچېرې دا خود سري لیده شي.

له یو ناول نګار څخه دا توقع لرل چې هغه دې په یو منفرد ډول د ژوند یو ډېر ښکلې په زړهٔ پورې انځور وړاندې کړي، ولې له روایاتو څخه انحراف دې په کښې نهٔ وي شوی، دا ډېره ناممکنه ده.ځکه چې ادب د ژوند ترجمانه او عکاس دی.څهٔ رنګه چې ژوند متغیردی دغسې ادب هم ورسره په هر زمان او په هر مقام تغیر پزیر دی.

په لنډه توګه که د دې ناول یو عکس وړاندې کېدی شي، نوهغه داسې: چې دشوق دلیك اندازډېر په زړهٔ پورې،مکالمې ئې چستې، معنې خېزي اویوډول په مخ تللی فکر خپرَوي. فقرې ئې ساده، روانې، برجسته اوښکلی اهنګ لري. په قیصه کښې ورانی (غېر) ماحول په وړاندې کولوسره قیصې ته ښکلا او رنګینې وربخښې، تجسس ئې یوپه څو چنده زیات، موضوع ئې واضحه اود پلاټ سکښت ئې هم تر ډېره په زړهٔ پورې دی. دهرکردار ترشا ئې د تهذیبې اوثقافتې اقدارو د ښوونو هڅه کړې ده. د اهدافوپه ترسره کولو کښې ئې له لغویاتو، پروپېګنډې اویا بل کوم تبلیغ ته ځای نهٔ دی ورکړی. تر وسه ئې زیار کړی چې مناظراو واقعات په حقیقې بڼه وړاندې کړي او هم ئې دخپل استعداد مطابق زیارکړی چې دفن غوښتنې ترنظر لاندې وساتي. د تاریخ له پاڼو څخه ئې هم یوڅهٔ راسپړلې دي، که څهٔ هم دا ناول دهغهٔ دشخصې مینې یو رومانوي تاثردی، ولې هغهٔ دا رومانوي داستان د نړۍ دحسن اوعشق په دریچو کښې داسې وړاندې کړی،ګویا چې داهم په هېڅ صورت له نورو جهانې مینې کم نهٔ دی.په دې کښې دمنظر کشۍ کوم مهارت چې ښودل شوی، له هغې څخه د دهٔ دفن لوړتیا هم ښه څرګنده ده.

هرکله چې وچه لښته د یو بشپړناول یا د ناول تقاضې نهٔ پوره کوي نو بیا خو دلته دا امکان پیدا کېدلی شي چې د وچه لښته په ځای دې د افضل شوق ”پرونې مخونه“په دا سیمه د پښتو اول ناول ولې نهٔ وګڼلی شي، ځکه چې په فنې اوفکري توګه دا د یو ناول په ټولو لوازماتو پوره خیژي.

د سیمه ایزناول په دې څېړنه کښې بل لیکوال رحمت الله رحمت دی چې وړومبی ناول ئې ”د ناکامه مینه او زورور خلق“ په نامه ۱۳۸۵ ه

ش، ۲۰۰۶ء کال کښې کښلی. رحمت الله رحمت د دې اول ناول قیصه وروستو نوره هم په درې ټوکه کښې خپَره کړې ده، چې هر یوټوك ئې جلاجلا عنوان لري، خومواد، پلاټ، قیصه، کردارونه اوبنیادي تاثرئې هم هغه داول ټوك څخه په مخ بیولی. دکردارونوپه برخه کښې ملك زقوم خان چې یومخه وریزخان وي، د یوحریص کردارپه توګه متعارف کړل شوی، څوك چې خپله لور "غوټۍ" د یو بل شته من خان ملك انورخان زوئ "محبت خان" ته په داغرض ورکړي چې د دې په زریعه به دی د هغهٔ جائیداد تر لاسه کړي. په نورو کردارونو کښې د محبت خان د مکتب ملګری یوسف خان، ور سره جانو (چې د محبت خان او د غوټۍ تر مینځه د رويبار (قاصد) کار ورکوي) او ځنې نور واړهٔ واړهٔ کردارونه هم شامل دي.

په اوله برخه کښې چې څهٔ ښودل شوي، هغه د محبت خان او د غوټۍ د مینې تنده، ښونځي ته د هغوئ تګ راتګ، هلته له دوستانوسره د هغوئ مصروفیات، د ملك انورخان د جائیداد احوال او د ملك زقوم خان د هغهٔ و جائیداد ته د سترګې خړولو پس منظر، دکلیو د خلقو ژوند او د هغوئ عام مصروفیات د قیصې بنیاد ګرځول شوی دی. په عمومي توګه طرز ئې بیانیه دی، کردارونه ئې متحرکه او د ماحول مطابق دي.

قیصه ئې ډېره خوږه اوساده ده. انداز ئې دلنشین او یو رنګه ښکلی تسلسل لري. د دهٔ د نثر په تل کښې بعضې وخت داسې محسوسېږي ګویا چې د پښتود اولسي نثرڅخه ئې ورته شیریني راپورکړې وي. زما په فکر دا به هېڅ مبالغه نهٔ وي چې ددغه نوموړی لیکوال قیصې تر ډېره حده د اروا ښاد منشي احمد جان اسلوب ته ورته والی لري. البته که یوڅهٔ نوره په ځان خواري تېره کړي نو امکان شته چې به ئې له قلم څخه تردې زیات او له ښهٔ د قدر وړ تخلیقات رامېنځ ته شي.

د رحمت د ناول دویمه برخه) "محبت ولې ورك شو" په کال ۲۰۰۷ء کښې چاپ شوې ده، داهم هغه د اولې برخې د واقعاتو تسلسل دی، که څهٔ هم ناول لیکونکی په خپله دا رائې ورکوي، چې: "باید یادونه وکړم چې دا دواړه

هر ناول په خپل ځای لوستونکي ته خپل مطلب ورکوي، خو که يو په بل پسې شي نو نۀ يواځې به مو پر هر مطلب خوند اخستی وي"(15).

د دۀ په دې ناول کښې دسوچه توريو استعمال پرېمانه دی، د فقرو جوړښت ئې ښکلی، نثرئې ساده، رنګين او ډېر په زړۀ پورې دی،ولې په ليک کښې داملا تېروتنې که ځنې شوې وي اويا دفن تقاضې ئې سمې نۀوي ترسره کړې، نو دهغې په حقله په خپله ناول ليکونکی هم د دې اعتراف کوي چې: " د مضمون، املا او مطلب غلطۍ به ضرور وي له تېروتنې به ما ته راتېرېږئ، يوې خبرې ته بايد ستاسو پام راوګرځوم، زۀ په شاعري اونثر ليکنو کښې تر ډېره حده په خپل فکر په عامه، ساده او روانه ژبه د ليکلو پلوي کوم، تر څوعام لوستونکيوته ډېره اساني وي"(16).

په دې کښې د تيمور اکا کردار ديومصلح،مفکر،پوهـ اود رسېدلي سپين ږيري په توګه وړاندې کړل شوی. ورسره د لونګ نومې هلک کردارد يونافرمانه اوبد خصلته زوئ انجام په توګه ښودلی شوی .

په دې کښې ځنې خاص سماجي پېښې هم په ګوته کړل شوې دي، لکه د اسلحې استعمال څخه کرکه، په توهماتوعقيده لرل ئې د يو بدعت په توګه تراټلی، دپيرانو د درګاه حاضري اودستانه دارود جولۍ تعظيم ئې محض د ساده باده خلقودلوټنې يوهنر ګڼلی. هم دغسې د ځوان کهول په نشه ايزو توکواخته کېدنه ئې ديوې ټولنې او يا ديوې علاقې دامن دتباهۍ او ذهنې پسماندګۍ ستر علت ګڼلی. البته يو نيم ځای کښې ئې دخوارغريب اولس او د زورور تر مېنځه دتفاوت وخواته اشارې هم کړې دي.

د دې برخې نثرساده، روان، عام فهم، په زړۀ پورې او بې کچه خوږوالی لري او هم دغسې د قيصه بيانولو انداز ئې د اولسي نقلونو په څېر لطافت لري. خو دلته هم هغه د اولې برخې په شان په دا برخه کښې هم د ناول په سکښت کښې څۀ قدر فنې تېروتنې ترې شوې دي.

دغسې ورپسې " ايا محبت به خپل مطلب ته ورسېږي"هم د دغه ليکوال د ناول دريمه سلسله ده، چې په ۲۰۰۹ء کال کښې چاپ شوې ده، په دې کښې ناول ليکونکی په دې عقيده دی چې په ټولنه کښې صلح،

امـن اوخوښـي دتهـولنې پـه وګړيـو پـورې مربوطـه ده، نـۀ چـې دبانـدې څخـه پـه دوئ تپل کېدلی شي.

پــه دې کښــې د تــاج دار ملنــګ کــردار ښخــي کمــزوری اومصــنوعي غونـدې دی، مکـالمې ئـې ډېـرې سسـتې اوشـډلې دي.ځنـې مکـالمې خـوئې ښخـي دموقـع اومحـل سره هـېڅ سـمون نـۀ خـوري. قيصـه ئـې ډېـره پـه بيـړه بيـړه يـا ډېـره پـه بې صبرۍ سره پـه يوزغـل مخ پـه بـره اخستې ده، چې لـه کبلـه ئـې سسـپنس زښـت تـاواني شـوی اوداسـې ښـکاري چـې غوټـه تـرې دمخـه خلاصـه شـوې ده. ځنـې ځـايونو کښـې ترېنـه جـذباتيت پـه قيصـه بـې ځايـه غالـب شـوی. اخلاقـي ښهـه ئـې د مخکښـې پـه شـان زوروره ده. طنـز پـه کښـې پريمانـه ولـې د مـزاح عنصـرپه کښـې ډېـرکم اويـا دنشـت برابـر دی. کردارونـه ئـې د خـود بيـانۍ ښـکار شـوي دي. قيصـه ئـې انجـام تـه رارسـولې ده خـو د قيصـې خاتمـه ئـې پـه فنـي ګرفـت کښـې نـۀ ده راوسـتې. پـه کـارخو دا وه چـې هـم پـه دغـه ځـای ئـې قيصـه پـه خونـد پرېښـې وی. خولـه بـده مرغـه دا قيصـه پـه يوبـل پړاوکښـې ئـې بيـا پـه مخـه اخسـتې ده،اوهـم ورپسـې ئـې څلورمـه برخه راشروع کړې ده.

دنـاول څلورمـه لـړۍ د"اُميـد" پـه نامـه سـره پـه کـال ۲۰۱۰ء کښـې چـاپ شـوې ده، چـې ځنـې برخـې ئـې هـم هغـه دمخکښـينيوحالاتو طوالـت دی.خـو پـه دې کښـې پرتـه لـه نـاول نـه يوڅـۀ داسـې شيان شـامل کـړل شوي دي چـې پـه هېڅ صورت دناول برخه نۀ شي جوړېدلی.

پښـتوناول لـه خپـل ابتداڅخـه تـر يويشـتمې پېـړۍ پـورې پـه ډېـرو لـوړو ژورو راتېـر شـوی، د وخـت اود زمـانې د واقعـاتو پـه بيـان کښـې ئـې ډېـر څـۀ پښـتوادب تـه راپـور کـړي. پـه دغـه سيمه لـه هغـه وختـه چـې د نـاول سلسـله شـروع شـوې ده، بيـا وروسـتو ډېـرو ليکوالـو د دې پـه سـرڅېه کولـو کښـې تـر وسه پوره فعاليت ښودلی دی.

د پښــتو نــاول پــه دا سلســله کښــې بــل نــاول ليکــونکی ښــاغلی راز محمـد راز دی، چـې ديـو پيـاوړي شـاعر پـه توګـه ئـې شـعري مجموعـه:" دصـليب پـه دائـرو کښـې --- " د شـعرمينه والـو تـه ډالـۍ کـړې ده. ولـې پـه

پښتو نثر کښې د دۀ اولنی زیار هم دغه ناول "اشو لمر او باران ووري" دی چې په کال ۲۰۰۸ء کښې خپور شوی.

ځۀ رنګه چې راز محمد راز یو تکړه شاعر او په فلسفه پوهه ادیب دی، دغه رازئې هر چېرې په افکارو کښې هم تر هر ځۀ د مخه د فلسفیانه او شاعرانه اغېز زیات لیدل کېږي. هر څو فلسفه که یوه خشکه او بُور موضوع ده ولې ښاغلي راز په خپلو اشعارو کښې دا ډېره په بریالیتوب سره ښودلې ده چې، که فن په ګرفت کښې راوستی شي نو د فلسفې په شان موضوع هم ادیب په لوستونکیو قبولولی شي. ځۀ ډول چې ښاغلي راز صاحب د خپل هنر په اساس په خپل شعر کښې فلسفیانه مباحث ډېر په سادګۍ سره وړاندې کړي دي، په پښتو نثر کښې ئې هم دغسې د فلسفې تراخۀ حقیقتونه په ډېر خواږۀ انداز سره راوړي دي. د راز د پښتو نثر یو ښکلی انځور مونږ د دۀ د پښتو ناول "عاشو لمر اوباران ووري" کښې لیدلی شو.

دغه ناول چې ګڼ کردارونه او مختلف ډوله خیالات په کښې راوړل شوي دي، په بنیادي توګه "اشو" د جنسي او نفسیاتي مسائلو ښکار یو ښکلی کردار دی، څوک چې په یو ازاد خیاله ماحول کښې رالوئ شوی وي، دا د جدت ښکار یوه خپلواکه جینۍ ده، چې په ازاد محفلونو کښې له ناستې ولاړې ځخه عارنۀ محسوسوي. دا رنګه د هغې کردار په پښتنې ټولنه کښې یو انتهائي جذباتي جدت اختیارونکې کردار نمونه هم ده. که ځۀ هم پښتنې ټولنه تراوسه دې ته اماده نۀ ده چې دا ډول حرکتونه دې په اسانه سره په ځان ومنې. لکه ځۀ رنګه چې په ناول کښې وروسته ښکاره شوي دي چې د "اشو" د داسې حرکاتو تر شا د هغې ځنې نفسیاتي مسائل وي، کوم چې سوکه سوکه د جنس په تنده بدل شوي دي. ځکه خو ناول لیکونکی د کردار په باطن کښې ټول زور په تحلیلِ نفسي او د ماحول په لټه کښې مصرف کړی دی. خو دا هر ځۀ ئې محض په ستغه سپوره اویا قند ونبات کښې نۀ دي لړلي، بلکې دې هر ځۀ ته ئې یوه ښکلې رومانوي فضا هم جوړه کړې ده.

پـه پښـتو نـاول کښـې د سـلطان محمـد ( مـاتو خـان ) نـه وروسـته راز محمـد راز هغـه نومـوړی ليکـوال دی چـې ئـې زمـونږ د ټـولنې ځنـې داسـې مسـائل پـه نخښـه کـړي دي، چـې تراوسـه هـم د ټـولنې پـه دغـه اړخ لاسـم سـوچ نۀ دی عام شوی.

تخليـق کـه د ادب پـه هـره ښـه کښـې وي، ځانتـه يـو هنـر دی اوپـه دې کښـې هغـه تخليـق کـار پيـاوړی بلـل کيـږي، څـوك چـې قيصـه د قـاري لـه ذوق او فکـر سره هـم اهنـګ کـړی شـي. پـه نثـر کښـې نـاول هـم يـو ښـکلی او ډيـر پـه زړۀ پـورې هنـر دی چـې د انسـاني ژونـد هـر اړخيـزه احاطـه کـوي. پـه دې کښـې لـه رنګـه رنـګ موضـوعاتوڅخه يـوه موضـوع دجـنس هـم ده، پـه ظـاهره خـو هرڅـو پـه دې کښـې کـه د لوسـتونکي نظـر د جـنس وخواتـه وي. ولـې پيـاوړی ليکـوال د لوسـتونکي لـه دې ذوق څخـه ډيـره پـه هنـر ګټـه اخلـي او ددې پـه واسـطه هغـه قـاري تـه يـو کـوم بـل پيغـام هـم ورکـول غـواړي. دا سمه ده چـې: " پښـتو کښـې جنسـي ناولونـه دومـره زيـات نـۀ دي ليکلـي شـوي او کـوم چـې ليکلـي شـوي هـم دي، نوهغـه دنفسـياتي پـس منظـر پـه رڼـا کښـې نـه بلکـې د فحاشـي خورولـو او لذت امېزی پـه تناظر کښې ليکلي شوي دي "(17).

يقينـاً چـې هـر جنسـي نـاول د بـل کـوم نـاول پـه ځـای فحاشـي اوبـې حيـائي خورولـو تـه زيـاتې مـوقعې ورکـوي، خولکـه څـۀ رنګـه چـې جـنس هـم د ژونـد يـو اړخ دی اولـه دې څخـه انسـان صـرف نظـر نـۀ شـي کـولی، نـو لـه دې کبله دا هم د ژوند يوه مهمه برخه ده اوله دې څخه فرارممکن نۀ دی.

ظـاهره ده چـې اديـب، شـاعراويا فـن کـارمحض يوعکـاس نـۀ وي چـې هغـه دې يـوائې هغـه شـيان نقشـوي کـوم چـې هغـه پـه غړيـدليو سـترګووينې. نـه داسـې نـۀ ده بلکـې فـن کـارمونږ تـه هغـه څـۀ وړانـدې کـوي کـوم چـې دسـترګو دکسـيو پـه اخـوا د فکـر تـر تختـې لانـدې لـرې ژور پراتـۀ وي. نولـه يـوفن کارڅخـه دا هيلـه کـول چـې هغـه دنـورو عـام وګـړو پـه څېرشـيان زمـونږ و مخـې تـه راوړي، ممکنـه نـۀ ده. پـه دغـه اسـاس د ښـاغلي رازمحمـد راز نـاول کـه وکتلـی شـي نـو پـه دې هـم د دۀ د فلسـفيانه افکـارو يـو سـتر اثـر پـروت دی، ولـې پـه دې کښـې هغـۀ يـوائې فلسـفه نـۀ

ده بیان کړې، بلکې د ژوند یوه رنګینه او ښکلې توته ئې هم وړاندې کړې ده، ځکه چې هغه پوهېږي:

*"ہم قاری سے یہ توقع نہیں کر سکتے کہ وہ فلسفے کے پیچیدہ سوالات پوچھے گا. ناول خشک کے بجائے تر صنف ادب ہے اس میں پنہاں کہانی سے اگر فوری حظ نہ حاصل ہو تو اس کا مطالعہ کوئی معنی نہیں رکھتا"(18).*

خودفني ارزښت په رڼاکښې دې ناول ته که وکتل شي، نوپه پښتو ناول نګارۍ کښې دا یوه ښکلې اضافه ده چې ځنې جنسي مسائلوته په کښې پام لرنه شوې ده. د پلاټ غښت اوکردارونو تخلیق که ئې وځیرو، نو لږ ډېر دا د اطمینان وړ نۀ دي. له دې وجې ځنې عناصرئې له ځایه سره شورېدلي اوشډل پاتې شوي دي.البته دا سمه ده چې ښاغلي رازمحمد راز دځپل ذات په دائرو کښې قید ادبي صداقت ته داظهار کومه لار چې پرانستل غوښتي دي، ترډېره حده بریالی شوی چې راز نور راز په تیَروکښې و نۀ ساتي.

دادب په روایت که وکتلې شي نو په ادبي اصنافو کښې تېروتنې ځکه راپورته کېږي، چې یا خو هغه صنف هلته نوی وي اویا ئې استعمال ډېر کم وي، د ښاغلي راز محمد راز په ناول کښې که څۀ نیمګړتیاوې راغلې دي نو هم دغه وجه ئې ده، چې په پښتو کښې ناول هغه ډول نۀ دی لیکل شوی څۀ طرح چې نورادبي اصناف روزل کېږي. پرته له دې دښاغلي رازمحمدراز په دې ناول کښې که څۀ لږ ډېر دعلاقائي لهجې استعمال وارد شوی، نوهغه ځکه چې له هغۀ څخه د صلیب خورا ډېرې دائرې تاؤ دي، د دغو دائرو اثر پرې داشوی چې هره یوه جمله ئې څوځایه او بې غو ښتنې ضربه کړې ده. یاپه لنډولنډوکامو کښې ئې ضربونه ورکړي، چې له کبله ئې تسلسل شوکېدلی او اهنګ ئې بې سوره شوی.

کردارونه ئې اکثره شناخته خلق دي (که څۀ هم دا تجربه یواځې ددۀ نه بلکې ددۀ ترمخه نوروهم کړې ده). پرته له " اشو" بل داسې کوم کردار نۀ ښکاري چې هغه دې تخلیقي صلاحیتونه ولري، د ایاز کردارکه هر څو صفااو پاکیزه ښودل شوی، ولې د ټولنیز ماحول او د چاپېریال د تقاضو په تناظر کښې ترې نه څۀ قدرغوځ شوی، ځکه چې له یو پاکیزه او لوړ

کردارڅخـه دا توقـع نـهٔ شـي کېـدلی چـې هغـه دې یـو دم دومـره تېـت او یـا پرېـوتی وښـودل شـي. بـل دا چـې پـه دې کښـې د نـاول لیکـونکي وِیـژن هـم واضـح نـهٔ دی. پرتـه لـه جنسـي کشـش نـه پـه دې کښـې بلـه کومـه داسـې اړیکـه نهٔ لیدل کېږي چې هغه دې لوستونکی راجلب کړي.

نومـوړي لیکـوال زیـارکړی چـې کردارونـه دې هرچېـرې پـه فطـري بڼـه عمـل وکـړي، خوڅـهٔ رنګـه چـې د دهٔ د هرکرداردائـرهٔ عمـل اوخصوصـیات د مخـه معلـوم دي نـو هغـوئ نـهٔ شـي کـولی چـې لـه هغـې دائـرې څخـه دبانـدې ووځـي. البتـه لـه دې څخـه انکـار نـهٔ شـي کېـدی چـې پـه هـر کـردار د نـاول لیکـونکي ذاتـي تـاثر بیـاهم زورور وي، لـه دې کبلـه یـو عـام قـاري نـهٔ شـي کـولی چـې د نـاول فکـري اړخ تـه ځـان ورسـوي. ځنـې وخـت د دې نـاول پـه الـوت کښـې دټالسـټای د "نینـا کارنینـا" او یـا د ممتـاز مفتـي د "علی پور کا ایلی" رنګ هم معلومېږي.

دجـنس موضـوع یـوډول خطرناکـه اوپېچلـې موضـوع ده. هـر لیکـوال نـهٔ شـي کـولی چـې پـه دې کښـې پـه اسـانه سـره زغـل وکـړي، ځکـه چـې ددې موضـوع پـه سـپړلو کښـې لیکـوال تـه د ټـولنې لـه یوشـمېر وګـړیـو څخـه دکلـك، تېـز او تندګزارونو څخـه دځـان دفـاع کـول هـم لاژم وي. خودامسـئله دومـره هـم حساسـه سـاتل نـهٔ دي پـه کـار څـومره چـې دا پـه تېـَرو کښـې سـاتل شوې ده ځکه چې:

"صحت مند جنس نگاری بُری چیز نہیں جنس کے تذکرے سے پہلو تہی کرنا یقیناً گھٹن پیدا کرتا ہے جو چیز مذموم ہے وہ اس جنس نگاری کی نوعیت ہے بعض اوقات کسی عریا منظر کا تذکرہ ناگزیر ہو جاتا ہے۔ ایسے مواقع پر صحیح الدماغ ادیب اشاریت سے کام لیتے ہیں اور عریانی کے الزام سے بچ نکلتے ہیں۔ ان کے یہاں عریانی مقصود بالذات ہوتی ہے، ناگزیر مواقع کا توان کے یہاں سوال ہی پیدا نہیں ہوتا وہ تو ڈھونڈ ڈھونڈ کر عریانی کے مواقع نکالتے ہیں"(19).

د جـنس پـه اړه لیکـل یقینـاً چـې یـوه حساسـه مسـئله ده، ځکـه چـې پـه دې کښـې لـه اولـه یـوه طبقـه ودې تـه امـاده نـهٔ ده چـې دا دې پـه تحریـري بڼـه کښـې عـام کـړل شـي، بـل دا چـې د ټولنې یـو واضـح اکثریـت خـو هـم دا پـه ښـکاره نـهٔ لـولي او نـهٔ خـو پـه عمـومي نشسـتونو کښـې د قبولیت وړموضوع ده، که څهٔ هم:

"جنس کا اظہار پل صراط پر چلنے کے مترادف ہے اور ہمیشہ ایسا ہی رہے گا کیوں کہ قاری اور نقاد اخلاق اور اقدار کی بنیادوں پر اسے قبول یا مسترد کرنے کا حق رکھتے ہیں. یہ ایک کڑوی گولی ہے جسے فن بھی بنا دیا جائے تب بھی عریانی کا پہلوں جھلک ہی جائے گا "(20).

په یو مخیز ډول له دې ناول څخه له اخلاقو ښېګړه لرل که څۀ هم مناسبه رویه نۀ ده ولې ددې په تل کښې که یو قاري وغواړي نو ډېر څۀ ترې نه اخذ کولی شي، هغه که د ناول نګار له روئې څخه وي او که د ناول له ملغلرو څخه وي. بل دا چې که یو قاري دمخه اماده وي چې هغه یوه اخلاقي فن پاره لوِللوته نۀ دی ناست، بلکې هغه یوه جنسي او یا د نفسیاتو موضوع لوست کوي. دغسې به هغه زر د نقد توره ته لاس نۀ وړي. هرڅوله دې څخه انکار نۀ شته چې که له نقد څخه ځان وهم ژغوري، ولې د مخصوصې طبقې نقد به لا بیا هم پسې وي. په هرحال د جنس موضوع یوه نازکه او محتاطه موضوع ده، ځکه چې ددې په تل کښې ډېر طوفانونه پراتۀ دي. خو په اصل کښې دا تاوان د جنس موضوع په ځېړلو کښې نۀ دی، بلکې مسئله د دې په پېچلي او ترحده وتلي ترسکون بیان او په سسپنس کښې ده، چې ئې ځنې مسائل پیدا کړي. نودلته چې ښاغلي راز محمد راز کوم تاثر وړاندې کړی ، هغه به یقیناً تعمیري وي، په دا سبب په دې ناول کښې مثبت اړخونه او لوړ قدرونه لټول په کار دي، نۀ چې محض نیمګړتیاوې.

د پښتو ادب په پراخه لمن کښې که یو څو خاص کسان په دا صنف کښې یادولی شو، نو له هغو نه یو ښاغلی فاروق سرور هم دی، چې ئې د فن او فکر پلوشې په ادب پارو کښې له ورایه برېښي، په پښتو افسانوي ادب کښې د ښاغلي فاروق سرور یو څو د افسانو مجموعې چاپ شوې دي، خو" سګوان " ئې لومړی ناول دی چې د سکام ادبي اکېډمۍ کوټې څخه په اپرېل ۲۰۰۸ء کښې خپور شوی دی. په دا ناول کښې هم لکه د دۀ د افسانو په څېر یو رنګ علامتي قیصه وړاندې شوې ده، چې د عالمي سامراج، ښکېلاك ګېر او د پنګه ایز نظام په خلاف د مبارزې یو رنګ دی، په دې کښې ګڼ کردارونه دي، چې بنیادي کردارئې،"ماماګی "

دی، ( چې اصل نوم ئې اتل خان دی ).دا یو علامتي کردار دی چې د کلي سپي او د سپيو ښښتن له دۀ څخه په عذاب وي اوهم دی له دوئ څخه په عذاب وي، يعني دسپيوله ماماګي سره او د ماماګي د سپيو سره ورانه وي. ماماګی چې په ظاهره خود لېوني کردار ښکاري، ولې دا هغه مترقي او رسېدلی کردار دی چې دخپلې ټولنې په کړۀ وړۀ نظرلرلوسره سره ئې نړيوال ليدهم پياوړی وي، "ماماګی" يو باشعوره، بااحساسه، د مترقي سوچ او فکر خاوند او يا د يو جهدِ مسلسل نوم دی. کوم چې د نړيوالې ټولنې د يوذمه واره غړي په حېث هرچاته د دې ښکېلاك ګېر په خلاف مبارزه ښائي. د ماماګي په پټ صلاحيتونو کښې د سپيو په ژبه د هغۀ پوهېدل او دشپې مهال د هغوئ په خلاف پټ پلانونه جوړول يوډول ژوري معنې دي. هغه چې د استعمار په خلاف يو پټ منظم پلان لري او په کلي کښې يوڅوهم خياله ځوانان هم لري، نو داګويا د هغۀ يو منظم تنظيمي پلان وي، کوم چې د استعمار په خلاف هغۀ جوړکړی وي. دلته ناول ليکونکي په اشارو اشاروکښې د ټولنې په اجتماعي بې حسۍ هم کلك ګزارونه کړي دي، لکه کله چې هغه ګرده شپه دکلي په سپيو ډبرې ياکاڼي وَروي، نو د دۀ دا خيال وي چې دکوراويا دکلي خلق به دسپيو په بېګنۍ شورسهار څۀ بد رد و دۀ ته وائي، خوسهار دکلي دخلقو په ناخبري دی انتهائي حېرانه وي، چې د خلقو اجتماعي شعور او احساس څومره قدر مړ شوی. چرته چې په دې ناول کښې دعالمي استعمارعلاقائي مهرې په نظر کښې نيول شوې دي نوورسره ورسره دملټي نېشنل کمپنيانوکردارهم په ډاګه کړل شوی، کوم چې نړيوال پنګه ايزنظام ته تقويت وربخښي.

ځنې نور واړۀ کردارونه چې د ناول له تهيم سره سم تللي دي له هغو نه لکه "کوندل اکا" چې دکلي يو سپين ږيری مشر وي، څوك چې د امن، وروږګلوۍ او انسان دوستۍ پلوي وي، دايوډول دعدم تشدد پېروکار هم وي. غالباً د دې کردار ترشا د ناول ليکونکي يوستر پښتون سياسي شخصيت ته اشاره ده. په نورو کردارونو کښې " سربلند اکا" چې ديوۀ

زيارت منجاور وي. په زيارت د چرسيانو محفل ګرم ساتي او خلق ئې رسېدلى سړى بولي، ولې په حقيقت کښې دا يوشيطاني کردار وي، چې په دغه نامه سره نور مقاصد لري. په مخالف کردارونو کښې ملك سلطان چې دماماګي د کلي مخه وريز خان او د سپيو خورا شوقين وي، راوړل شوى، چې ډېر خروړي سپي لري او هميشه يو ځاى بل ځاى د سپيو مېلې کوي، په داسبب دى د کلي د ملکۍ پرته د يو نومـوړي سګوان په نامه هم پېژندلى شي. د دۀ يو خورا غښتلى خروړى سپى شهزاده وي، چې بد زورور وي، هم يو ستر علامت دى. کوم چې ملك د خپلو غوښتنو تر سره کولو دپاره ساتلى وي. پرته له دې ځنې نور سائيډ کردارونه هم شته، چې د ناول په پر مختګ او فعاليت کښې ځنې کار اخستل شوى دى.

هرڅو که دا ناول د نړيوال استعمار په خلاف يو ډول تبليغاتي رنګ لري، خو په کښې د ژوند ښکلا او د ښکليود ذوق خيال هم ساتل شوى، له دې څخه معلومېږي چې ناول ليکونکي ژوند او دژوند هراړخ په نظر کښې ساتلى.

د ناول په وروستۍ برخه کښې، بادار، وران کار، دهشت ګرد، ملك، کندل اکا، سپي او د شهزاده علامتونه تر ډېره حده لوستونکي ته واضح کېږي. په اخر کښې لوستونکى په دې و پوهېږي چې دا سپينه ماڼۍ د څۀ ده او دا سپي له کومه خوا دي. هلته کله چې ماماګى په سپينه ماڼۍ ورګډ شي، نو په دۀ ډېر څۀ کشف شي، له سپينې ماڼۍ پرته چې کوم نورمحلونه ويني، په هغه کښې په ظاهره دانسانيت دفاع کونکې اداره يو اېن هم په نظر ورشي، دلته دى د باداراصل څهره هم وپېژني، چې دا په اصل کښې هغه ناسوردى چې نړۍ ئې له غلبېل سره مخامخ کړې ده. هغه وخت کله چې ماماګى خطا وځي او دى بادار ته تسليم شي اوپه دغه ماڼيو ور دننوځي، نو يو ستر پښتون مشر ورته دا وېنا وکړي چې:

"هلکه! دننه مه ورځه، دا د جادوګرو ځاى دى، دغه سپينه ماڼۍ ده، دلته خلق ورکېږي، خطا ايستل کېږي، په تا به هم څۀ چم وکړي، بيا به نو ارمان کوې" کله چې ماماګى بيا د دوئ په پره شي نو د دۀ دکلي هغه ټول سپي چې له دۀ سره به ئې مدام ورانه وه، پس له دې ئې همدرده

او وفـادار شـي. مامـاګی چې هرڅۀ کـوي پـه هغـې دوئ خـوا نـۀ ګرځـوي، لکـه دیومشـر سـپي دغـه وېنـا چـې، " چـروت ئـې مـه وهـه، " مشـر سـپي پـه پسـته خولـۀ ووئيـل او پـه ډېـره مينـه ئـې د مامـاګي پـه اوږو خپلـه چمبـه کښېښـوله ، وو تـۀ اوس د پـه خـوا سـړی نـۀ ئـې ، بلکـې زمـونږ دوست او ملګـری ئـې ،ځکـه د دوستانو او ملګرو هره تېره خطا او ناپوهي مونږ بخښو"(21).

کـه يـو خـوا پـه سـپينه مـانۍ کښـې مامـاګي او دهغـۀ اولـس تـه دام اچـول کېـږي نـو بـل خـوا د کـريملن لـه مـانۍ څخـه هـم دمامـاګي پـه وطـن تېـرى کولوتـه اوبـۀ خړولـې شـي. دغـه شـان مامـاګی کلـه د يواوکلـه دبـل نـه د خپـل اقتـدار دپـاره مرسـته تـه لاس غـزوي. خـو لـه هغـۀ سره دا ويـره او سـودا شـي، هسـې نـه چـې دخپـل اولـس مـې لـه دې زور او واك څخـه بـې دخلـه کـړي. نـو بـادار د دۀ ويـره پـه دا ډاډ سره ور لـرې کـوي چـې:" مـونږ بـه ډېـر زغـرد ستاسـې کلـي تـه درورسېږو او ستاسـې پـه خدمت بـه بوخـت شـو، بـل ستاسـې کلـی خـو پـه دې هـم زمـونږ خـوښ دی چـې ډېـر اهـم ځـاى دى او دلويـو لويـو سـوداګرو لارده وربانـدې، کاشـکې چـې ستاسـې کلـی زمـونږ پـه لاس کښـې وی ،نـو مـونږ بـه پـه دغـو ټولـو سـوداګرو نظـر هـم سـاتی چـې پـه دوئ کښـې ډېـر خطرناکـه خلـق هـم شـته ، پـه تـودو اوبـو اوسـمندرونو ډېـر مئـين دي، او ستاسې له کلي تګ ورته غواړي"(22).

دمامـاګي وغـاړه تـه چـې د سـپينې مـانۍ اويـا دکـرېملن لـه خـوا کـوم زنځيـر وراچـول کېـږي هغـه داسـتعمارچيانو او يـا د توسـيع پسـندانو يوقسـم تـه دام دی، چـې هغـوئ ئـې مـدام دغـه ډول فرمـانبردارو تـه دانعـام پـه بـدل کښـې ور پـه غـاړه کـوي. دايـوډول هغـه اشـاره ده کومـه چـې د دريمـې نـړۍ واکمنـو تـه ور پـه برخـه کېـږي، چـې پـه بـدل کښـې تـرې نـه د هغـوئ د وطـن مالونـه اوخزانـې لـوټلې شـي. خـو مامـاګی دخپـل احسـاس او شـعورله وجـې دې تـه تيـار نـۀ شـي چـې د دۀ وطـن دې لـوټ او وشـوکولې شـي، ځکـه ډېـر زردی بغاوت وکړي.

دغسـې کلـه چـې د مامـاګي او د بـادار سره ورانـه شـي نـو"اوس مامـاګي دخپلـې غـاړې هـار وشلوئ، لـرې ئـې وغورځـوئ، غمـی ئـې پـه يـو درانـۀکانې

ور وکوټېږ او و یو ځوان ته ئې ناره کړه، " ځلمیه:ترسرې خولې دې جار شم، تۀ ورشه کلی راویښ کړه چې له دې سره سم ټولو ډېرې راواخستې او دبادار اوسپو په لور ئې ورمنډه کړه"(23).

په لنډه توګه که ووئیلې شي نو قیصه ئې خوندوره، داحساس عنصرئې لوړ، نقطه نظر ئې واضح، ویژن ئې صفا دی، چې دلیکونکي دغوره مطالعې، تجربې اولوړې مشاهدې ښکارندوئ دی. موضوع ئې که هرڅو په علامتونو کښې بنده ده، ولې دلوست په هر نوي پړاو کښې دلچسپي او سسپنس برقرار ساتي، کوم چې دقاري ذهن ته یو واضح پېغام ور رسوي.

دښاغلي فاروق سرور سوچ اوفکر که لږ په غور مطالعه کړل شي نو هلته قاري پوهېدلی شي، چې فاروق سرورله هغه ډول لیکوالوڅخه نۀ دی، چې پېغام دې نېغه په نېغه په عام خواږو تراخو کښې وړاندې کړي، که څۀ هم د دۀ د قیصومواد دکلیو له ساده باده واقعاتوڅخه جوړ کړل شوي دي، خو په دې ساده باده قیصوکښې هغۀ ډېر ژور او ستر مقصدونه ویړیا کړي دي. د فاروق سرورهره قیصه د انساني ټولنې حقوق، معاشي او سماجي مسائل، ټولنیز مساوات، په وسائلواختیار، دجمهوریت دفاع، د استعمار غندنه ،اولس ته د شعوراودفکري بیدارۍ قدرونه لري، خودغو قیصو ته چې هغۀ کوم ډول قاري غوره ګڼي هغه عام، جذباتي، سطحي اوسمدستي نتیجه اخذکونکی قاري نۀ دی، بلکې هغه یوحوصله منډ، دوراندېش، مترقي، انسان دوسته اوهغه څوك دی څوك چې دیوې پر مخ تللې نړیوالې ټولنې دتشکیل په ارزو دی. ځکه چې د دۀ هر لیك لوستونکي ته نۀ یواځې شعوراو اګاهي ورکوي، بلکې په چاپېریال کښې پېښېدونکي واقعات اوحالات هم ورته روښاوي.

د موضوع، هئیت، اسلوب او د تېکنیك له رویه "سګوان" د پښتو د علامت نګارۍ په میدان کښې یوه ډېره په زړۀ پورې اضافه ده. د دۀ برجسته جملې، د سوچه پښتني لهجې استعمال د قیصې ښکلا یو په دوه سېوا کړې ده. نۀ په کښې یو توری بې ځایه اونۀ چرته کومه جمله ماته

ده. نـهٔ بـې ځایـه بحـث کـوي، نـهٔ بـې ځایـه منظـرراوړي، نـهٔ قیصـه پـه زور کشَـوي اونـهٔ سسـپنس بـې لاړې کـوي. هـر قـاري چـې د دهٔ قیصـه پـه توجـه لـولي نـو یـو تـاثر تـرې خامخـا اخلـي. قـاري پـه ځـان خبـرَوي. د لوسـتونکي ذهني او فکـري سطح هـم پـه نظر کښـې ساتي، ځکـه خو ئـې د قیصـې درست مـواد لـه روزمـره او د هـر چا لـه مـزاج سره سـمون خـوري. خبـره کـه هـر څـو پـه علامتونـو کښـې نغـاړي، ولـې هـر علامـت ئـې سـترګورو تـه ښـکاره دی.دسـرور د ادبـي خوزښـت بالخصـوص د نـاول د فـن پـه حقلـه مصـطفٰی کمال داسې لیکي :

"فاروق سرور کے "سگوان" کے دیگر فنی اور تکنیکی پہلوؤں کی نشست برخاست سے زیادہ قابل توجہ اس ناول کا علامتی پیرایہ ہے جو نہ صرف پشتو ناول کے لیے ایک انوکھا اور نرالہ تجربہ ہے بلکہ اس سے پشتو ناول میں علامت نگاری کے حوالے سے اس کے مستقبل کا تعین بھی ہوتا ہے" (24).

د سـیمه ایـز پښـتو نـاول پـه څېړنـه کښـې وروسـتنی نـاول د عبـدالقادر مجـرم" لویـه لاړ ده څـوك بـه راشـي" دی. چـې پـه نـومبر ۲۰۱۰ء کښـې هېـواد ادبـي یـون کهالـه سـیف الله (کـلا سـیف الله) خپـورکړی. د دې پـه کردارونـو کښـې مرجـان اکـا ، چـې یـو انسـان دوسـت او د خېـر ښـېګړې رسـوونکی او زړهٔ سـواند سـړی دی، بهـرام خـان چـې دیـو ظـالم پـه توګـه معـارفي شـوی دخلقـو مـالونو اوجائیـدادونو رالانـدې کولـو تـه همېشـه د بـدۍ جوړولـو پـه تکـل کښـې وي. بـدرو چـې د "زهٔ" کـردار مېرنـی ورور وي، کـو م چـې د بهـرام پـه جـال کښـې کښـېوتلی وي او یـو، "مشـر" چـې د "زهٔ" کـردار دکونډې مور میراث خور څښتن وي، هم شامل دي.

د نـاول کـړهٔ وړهٔ او ابتـدائي قیصـه پـه ډېـر ښـکلي او درد نـاك اندازسـره شـروع شـوې ده، چـې پـه پښـتني ټولنـه کښـې د ښـځو سـره کېـدونکي نـاوړه سـلوك تـه پـه کښـې اشـاره شـوې ده، ولـې لـه هغـه ځایـه چرتـه چـې نـاول لیکـونکي دیـوهٔ عاشـق د عشـق قیصـه شـروع کـړې ده، لـه دغـه ځایـه نـاول څـهٔ قـدر فنـي نیمګړتیـا پیـدا کـړې ده او نـاول خـوئ خصـلت پـه بلـه خـوا اوړېـدلی دی. پـه دې کښـې یـو ډول سیاسـي تقریرونـه، ګونـدي تبلیغـات او د ځـان ښـودنې عمـل تـه هـم لاس اچـول شـوی. خـو پـه لنډه توګـه کـه ووایـو کـه نـاول

لیکـونکي هـم هغـه د ابتدا قیصـه پـه ښـکلي انـداز سـره پـه مـخ بیـولې وی، نـو امکـان کېـدی شـو چـې پـه پښـتو ادب کښـې د موضـوع دهیئـت او مـوادو پـه لحـاظ بـه یقینـاً چـې دا یـو منفـرد تخلیـق وی. البتـه، نثـر ئـې خـوږ، روان، لهجـه ئې سلیسه، صفااو په سوچه کاکړیو توریو ارا سته ده.

❁❁❁

# ماخذونه


(1) حنیف خلیل، پښتو ناول (تحقیقي اوتنقیدي جائزه)، باگرام پښتو ادبي جرگه پېښور، جنوري ۲۰۰۰ء،مخ ۴۵

(2) شهسوار سنگروال نیازي، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، احمدشاه ابدالي پوهنتون، ۱۹۹۷ء، مخ۳۶۰.

(3) "پشتوناول کے جدید رجحانات" از مصطفیٰ کمال، مشمولہ پشتوادب کے جدید رجحانات، مرتبہ عبداللہ جان عابد، یونیورسٹی پبلشرز، پشاور،۲۰۰۸ء، ص۔ ۹۷.

(4) هم دغه، مخ۹۹.

(5) مرتضی شاهین ،ادبي لارې او منزلونه ، چارسده، پښتونخوا ،۲۰۰۸ء ، مخ ۳۲۱.

(6) ډاکټر، محمداعظم اعظم، پښتو ادب کښې کردارنگاري، پښتو اکېډمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۸، مخ ۳۰۲

(7) حنیف خلیل، پښتو ناول، مخ ۶۴.

(8) هم دغه، مخ ۹۹ .

(9) افضل شوق، "پروني مخونه "سکام پښتو ادبي اکېډمي کوټه،جنوري ۲۰۰۶ء ،مخ ۲۲

(10) هم دغه، مخ ۲۱

(11) هم دغه، مخ ۲۱

(12) هم دغه، مخ ۸، ۹

(13) ڈاکٹر ممتاز احمد خان ،آزادی کے بعد اُردو ناول ، انجمن ترقی اُردو پاکستان، ڈی، ۱۵۹ بلاک ۷ گلشن اقبال ، کراچی،ص۵۰.

(14) انځور، زرین، (یو لیکوال، یو سپلانے، یو ناول) مشموله پروني مخونه (د افضل شوق ناول) مخ ۱۳.

(15) رحمت الله رحمت، "محبت ولې ورك شو"،خپرونكې په خپله ليكوال،۲۰۰۷ء ، مخ ۵.

(16) هم دغه، مخ ۵، ۷.

(17) حنيف خليل پښتو ناول، مخ۷۷.

(18)ڈاکٹر، ممتاز احمد خان، آزادی کے بعد اُردو ناول، ص ۵۴.

(19) اردو ناول بیسوی صدی میں،ڈاکٹر عبدالسلام،بہ حوالہ: آزادی کے بعد اُردو ناول،ڈاکٹر ممتاز احمد خان، ص ۱۳۹

(20)هم دغه، مخ ۱۴۶.

(21) فاروق سرور، "سګوان"، سکام ادبي اکېډمي، کوئټه ،اپرېل ۲۰۰۸ء : مخ ۱۲۵.

(22) هم دغه، مخ ۱۳۰.

(23) هم دغه، مخ ۱۴۷.

(24) " پښتو ناول کے جدید رجحانات"، مصطفٰی کمال، مشموله، پښتو ادب کے جدید رجحانات ،مرتبه عبدالله جان عابد، ص ۱۱۳.